PASHTO

## د غوښتنلیک پروسه:

1. **اړین اسناد او معلومات راټول کړئ:** ځانګړي برنامې ممکن اضافي اړتیاوې ولري. مهرباني وکړئ ټولې لارښوونې په بشپړه توګه ولولئ.
**اوسمهال د Dekalb کاونټي ښوونځي ولسوالۍ کې نومول شوي**
   - د زده کوونکي د ID شمیره (7 عددونه) – د راپور کارت وګورئ یا د ښوونځي سره اړیکه وګورئ
   - د والدین د شخصي ایمیل ادرس
**د Dekalb کاونټي ښوونځي ولسوالۍ کې یا بیرته راستنیدونکي**
   - د والدین د شخصي ایمیل ادرس
   - د استوګنې ثبوت – د ګاز، اوبو، د برېښنا بل (د اعظمي 60 ورځو پخوانۍ)، د کروۍ/اجارې قرارداد،
     - که چیرې والدین د پورته لیست شوي معلوماتو سره سم په خپل نوم باندې د استوګنې ثبوت ونه لري نو د ښوونځي انتخاب د استوګنې حلفیه فورمې ته اړتیا ده. فورمې په www.dekalbschoolsga.org/school-choice/forms-and-brochures/ شتون لري.
     په حلفیه بیان کې لیست شوي ټول اسناد سکین کړئ او وئې سپارئ. **د هغه څه پرته چې لیست شوي د نورو اسنادو سپارل به غوښتنلیک غیر قانوني وګرځوي.**
   - د زیږون سند یا د سرپرستۍ سند
   - د روان ښوونیز کال **د مني سمستر د راپور کارت**
   - M.A.P. د ازموینې نمرو ته <u>یوازې</u> هغه وخت اړتیا وه کله چې د لوړ لاسته راوړونکو Magnet برنامې څوکۍ لپاره غوښتنه کیږي

2. د ښوونځي انتخاب برنامې او ښوونځي وڅیړئ – برنامه د خپل ماشوم د زده کړې دول، څواک او ګټو سره پرتله کړئ. د www.dekalbschoolsga.org/school-choice/programs/ لیدنه وکړئ.

3. **د ترانسپورټ پالیسي په پام کې ونیسئ.**

4. **خپلې برنامې او ښوونځي غوره کړئ.**

5. https://dekalbschoolsgac.scriborder.com/ **ته لاړ شئ. د غوښتنلیک ورکولو لپاره "Start LOGIN" ټب وټاکئ.**

   - ټول والدین باید د نوي غوښتنلیک سیسټم لپاره حساب یو جوړ کړي.
   - په خپل پروفایل کې د زده کوونکي اضافه کولو لپاره د نیلي رنګ **زده کوونکی مل کړئ** ټب باندې کلیک وکړئ
   - د زده کوونکي لپاره د غوښتنلیک پیلولو لپاره د شنه رنګ **غوښتنلیک پیل کړئ** ټب باندې کلیک وکړئ
   - د ډیرې برنامو لپاره غوښتنلیک ورکولو لپاره والدین باید هر ځل د شین رنګ **غوښتنلیک پیل کړئ** باندې کلیک وکړي.

6. لاندې برنامې اضافي غوښتنلیک ته اړتیا لري چې ښوونځي ته باید وسپارل شي:
**د اوریدا غوښتنلیک ورکوونکي چې د DeKalb د هنرونو عالي ښوونځي (د 8-12 ټولګي) او د DeKalb د هنرونو ابتدایي ښوونځي (4-7 ټولګي) ته غوښتنلیک ورکوي بایدی**
   - لومړی: د ښوونځي انتخاب آنلاین غوښتنلیک **وسپاري**
   - دوهم: د اوریدا غوښتنلیک پاکټ مستقیم ښوونځي ته وسپاري. مهرباني وکړئ د جزئیاتو لپاره د هغوی ویب پاڼه وګورئ.

**IP Preb (ټولګي 9، 10) او د IB ډیپلوم (ټولګي 11, 12) غوښتنلیک ورکوونکي چې د Tucker عالي ښوونځي، Druid Hills عالي یا MLK Jr عالي ښوونځیو** ته غوښتنلیک ورکوي باید
   - **لومړی:** د ښوونځي د انتخاب آنلاین غوښتنلیک وسپاري.
   - **دوهم:** په یوه ایمیل کې د IB غوښتنلیک پاڼي د IB برنامه وړاندې کوونکي هر ښوونځي ته په جلا توګه وسپاري او د ښوونکي د وړاندیزونو غوښتنه وکړي. د جزئیاتو لپاره د ښوونځي انتخاب فورمو او بروشرونو پاڼي ته لاړ شئ.

**د Arabia Mountain عالي ښوونځي د Magnet برنامې** اضافي غوښتنلیک او سپارښتنې باید په مستقیم ډول ښوونځي ته وسپارل شي لکه څنګه چې د ویډیو مرکې پوښتنو فورمه کې ورته اشاره شوې.

**د DSA او DESA د اوربدا، د IB Prep یا IB ډیپلوم او د Arabia Mountain عالي ښوونځي د ډاونلوډ وړ/تعدیل وړ غوښتنلیک پاڼې په**http://www.dekalbschoolsga.org/school-choice/forms-and-brochures/**لنک باندې شتون لري**

7. د غوښتنلیک د وضعیت تازه معلوماتو او خبرتیاوو لپاره په مکرر ډول د خپل ایمېل ان باکس او د غوښتنلیک کورنۍ ډشبورډ چیک کړئ. په منظمه توګه د ایمېل چیک کول او غوښتنلیک ته ننوتل ستاسو مسؤلیت دی.

8. **د لاټرۍ د پایلو په ورځ (د مارچ 29، 2024) د خپل غوښتنلیک د کورنۍ ډشبورډ ته د ننوتلو له لارې خپلې پایلې وګورئ.** دا ستاسو مسؤلیت دی چې خپل ایمېل او د ښوونځي انتخاب ډاشبورډ په منظمه توګه وڅارئ.

9. **د ځوکیو لومړۍ دوره به د اپریل په 15، 2024 باندې پای ته ورسیږي.** د ناوخته غوښتنلیک موده به د اپریل له 1 څخه د اګست 23، 2024 ترمنځ پیل شي. په ښوونځي کې د کښېنولو وروستنۍ نیټه 30 اګست 2024 ده.

10. **که چیرې غوښتنلیک ورکوونکی/ورکوونکې په یوه برنامه کې منل شوی/شوې وي، د ایمېل له لارې استول شوي انتخاب لیک کې په ښودل شوې وروستنۍ نیټه باندې** **د آنلاین ډشبورډ له لارې وړاندیز ومنئ یا یې رد کړئ.** کله چې د ځوکۍ اېښودلو وړاندیز ومنل شي نو نور ټول انتخابونه به رد شي ځکه چې زده کوونکی نشي کولی په دوه مختلف ښوونځیو یا برنامو کې نوم لیکنه وکړي. مهرباني وکړئ ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو د خپل ډشبورډ غوښتنلیک څخه د ځوکۍ کښېنولو وړاندیز منلو لپاره د ګرځنده تلیفون پرځای کمپیوټر کاروئ.

11. **د ټاکل شوي وخت پورې د خپلې ځوکۍ منلو لپاره په ښوونځي کې نوم لیکنه وکړئ. د ټاکل شوي وخت نیټې د هر ښوونځي په ویب پاڼه باندې ورکړل شوي دي. د هر هغه غوښتنلیک ورکوونکي ځوکۍ ضبط کیږي/په اتوماتیک ډول رد کیږي چې د انتخاب لیک یا د ښوونځي په ویب پاڼه کې ورکړل شوي د ټاکل شوي وخت نیټې پورې په ښوونځي کې خپله نوم لیکنه نه وي کړې او د انتظار لیست کې ثبت شوي غوښتنلیک ورکوونکو ته په هغه ترتیب سره ورکول کیږي کوم چې د انتظار لیست کې ورکړل شوی.** کله چې یوځل کومه ځوکۍ د والدین لخوا یا په اتوماتیک ډول رد شي نو د هغې ځوکۍ بیا ټاکنه امکان نه لري. که چیرې د نوم لیکنې نیټې د ښوونځي په ویب پاڼه کې ونه موندل شي نو دا د والدینو مسؤلیت دی چې ښوونځي ته د نیټې موندلو لپاره زنګ ووهي.

**د لا زیاتو معلوماتو لپاره،** مهرباني وکړئ د ښوونځي انتخاب ویب پاڼ http://www.dekalbschoolsga.org/school-choiceه/وګورئ